۱۶ جوزا ۱۳۸۱

# د ا فغانستان د بشر حقونو خپلواك كميسيون

## مطبوعاتي خبرتيا په افغانستان كي د ښځو او ماشومانو د قاچاقو د سببونو په اړه څېړنيز رپوټ

كابل د ۱۳۹۰ ل هـ د چنګا ښ ۲۱

د افغنستان د بشر حقونو خپلواك كميسيون په هيواد كي په پراخه كچه د ښځو اوماشومانو قا چاق انديښمن كړي دى او دا كار په هيواد كي د بشر د حقونو څخه ښكاره تيرى ګڼي ،او د ټولو ارزښتونو، بشرى حقوقي موازينو او ملي قوانينو پرضد كړنه ده.

د غه رپوټ چي ډير پام ئې په هيواد كي د ښځو اوماشومانو د قا چاق پر سببونو باندي دى ، د هغو مركو څخه په لاس راغلى دى كوم چي د ۴۵۷ قربانيانو او ۸۷۱ عامه خلګو سره د هيواد په ۲۰ ولايتونوكي د شپږو مياشتو په موده كي ( د ۱۳۸۹ كال د ليندى اولى څخه بيا د ۱۳۹۰ كال د غبرګولى تر اولى پوري ) تر سره شوي دي .
د كميسيون د څيړنو څخه دا څرګنده شوه چي د بد ه مرغه ځينى ستونزي لكه فقر ، بيكاري ، ادارى فساد او د امنيت نشتون له هغه سببونو څخه ګڼل كيږي چي د ښځو او ماشومانو قا چاق ته لاره هواروي او انساني قاچاق وړونكوته دا وخت وركوي چي د قاچاق بهير بيله ويرى پر مخ بوزي او په همدې توګه د ښځو او ماشومانو زيانمنونكي وضعه هم هغوى ته د قاچاق كولوته زړه ور توب وركوي چي دا بهير نوري ناوړي پايلي لكه جسمي تاوتريخوالى ، اروائي تاوتريخوالى، جنسي تيرى او نورى ناروا وي لري.
د افغانستان دبشرحقونو خپلواك كميسيون مشرى آغلى سيما ( سمر) په قول ( كه څه هم د ښځو او ماشومانو د ژوند ښه كولو دپاره ژمنى شوى دى او ستراتيژى او كړنلاره ټا كل شوې د ه خوبيا هم ډيري ښځي او ماشومان د ځينو ستونزو له سببه لكه فقر ، بيكاري ،ادارى فساد د امنيت نشتون ، بې وخته اوپه زور ودونه د بشر د حقونو سر غړونه او په ځانګړي توګه د انسان د قاچاقو قرباني كيږي، چي دولت د دې جنايت د مخنيوى تر څنګه د هغوبكونكو ته سزا او د دې پديد ې قر بانيانو كلك ملا تړ وكړي )
د ا فغانستان د بشر حقونو خپلواك كميسيون د دې جنايت انديښنې او غندني سره د افغانستان دولت اونړيوالى ټولني څخه په كلكه غواړي چي د انسان د قا چاق اوپه تيره بيا د ښځو او ماشومانو د قاچاق په وړاندي په ټينګه مبارزه وكړي او دغه څه له مينځه يوسى او هم هيله لري چي د اړيني پوهاوي دپاره لازم پروګرامونه جوړ كړي تر څو د انسان د قا چاق سببونه وڅيړي او د انسان قا چاقو قربانيانو سره اړين ملا تړ وكړي .

**********************

دغه رپوټ لنډيز د افغانستان د بشر حقونو خپلواك كميسيون په ويب سايټ http://www.aihrc.org.af په پښتو ،دري او انګريزي ژبه خپور شوى دى.
د نورو مالوماتودپاره په دغه نومره۰۰۹۳۲۰۲۵۰۰۶۷۶ اړيكي ونيسى.
بريښنا ليك aihrc@aihrc.org.af